مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی
۲۰۲۲/۱۲/۲۲

# وینکُو وَر، د سپینو واورو ښین ښار

برټش کولمبیا / کاناډا:



د کاناډا په جنوب لویدیځ کې، د آرام سمندر په څنډې پروت وینکو ور - Vancouver د برټش کولومبیا (BC) د ایالت تر ټولو ستر ښار دی. د مالګینو اوبو مستو څپو، ګرد چاپیره شنو غرونو چې په سپینو واورو پوښل شوي او د ساحل د رڼو اوبو په سر د کوچنیو الوتکو کښیناسلتو او الوتلو دې ښار ته بې جوړې ښکلا ښښلې ده. هره خوا دنګې شنې شیشه اې ودانۍ، د آرایش او سوداګریزو اعلانونو څل بل او په واټونو کې له موسکا او انرژۍ ډکې څیرې، د دې ښار هویت ګڼل کیږي. ښایي له همدې امله؛ هر کال ۱۵ ملیونه خلک د سیل او چکر لپاره راځي او د یو راپور له مخې، دا د نړۍ د پنځلسو سوتره ښارونو په کتار کې ولاړ دی.

د مترو وینکو ور دا سیمه د دوه نیم ملیونه آدم ذاتو کور دی؛ ۷۲ زره یې مسلمانان دی چې له دې جملې څخه تقریبا ۸ زره یې افغانان دي چې زیاتره یې په دې وروستیو دوو کلونو کې را کډه شوي. دلته ۳۰ جامع جوماتونه آباد دي؛ ګڼ شمیر حلال رستورانونه او د ختیځې نړۍ د خوړو او لباسونو دوکانونه لیدل کیږي. چینایان، هندیان، ایرانیان او عربان خپل کلتوري مرکزونه لري، خو افغانان د کاروان په پای کې په خاړپوڅو مزل کوي. د ۲۰۰۵م کال د قانون له مخې، دلته سړې له سړي او ښځه له ښځې سره واده کولای شي. همدا رنګه په ۲۰۱۸م کال کې پریکړه وشوه چې د دې هیواد هر بالغ کس چې عمر یې له ۱۹ کالو څخه زیات وي، کولاې شي چرس واخلي او د ساعت تیرۍ په خاطر یې وڅښي.

د یو عام وګړي کلنې متوسط دخل یا ګټه ۵۶ زره ډالره ده او یو کارګر چې په رستورانت، د تیلو پمپ یا مغازې کې کار کوي، د یو ساعت مزد یې ۱۶ ډالره دی. د کورونو کرایې ډیرې لوړې دي چې په منځني ډول د میاشتې د درې نیمو او څلور نیمو زرو ترمنځ ده. د یوې خونې آپارتمان چې پخلنځې او یو تشناب ولري، میاشتینۍ کرایه یې نژدې ۱۸ سوه ډالره ده. خو د ټرانسپورټ له بابته، دا یو له بهترینو ښارونو څخه دی چې هرې پنځه دقیقې وروسته ارزان بیه دولتي اورګاړي او بسونه چې TransLink او SkyTrain نومیږي، د ښار هرې خوا ته په منډه دي. یواځې ۴۸ سلنه خلک یې د انګریزي ژبې اصلي ویونکي دي، چینایي او پنجابي ژبې هر چیرې اوریدل کیږي. د ټیکسي موټرو له ۷۰ سلنې زیات چلوونکي یې هندي پنجابیان دي چې ځینې یې اوږدې ګیرې لري او ژیړ رنګي پټکي په سر کوي. د دې ښار ګڼ شمیر خلک د اونۍ په وروستیو دوو ورځو کې د امریکا د واشنګټن ایالت پلازمینې، سیاټل ته د سود سودا لپاره تګ راتګ کوي چې د موټر مازې یوه نیمه ګړۍ مزل دی.

دا سیمه په ۱۷۹۲م کال کې د یو پیرنګي جګتورن، جورج وینکو ور لخوا کشف شوې او له همدې وجې د هغه په نوم نومول شویده. مساحت یې ۲۸۸۰ کیلو متره مربع دی او د سمندر له سطحې څخه یواځې دوه متره لوړه دی. دلته ۶ پوهنتونونه او ۱۸ کالجونه شتون لري چېرته چې لسګونه زره ځوانان او پیغلې څنګ په څنګ خپل لوړ تحصیلات کوي. د دې ښار د سږ کال بودیجه، دوه ملیارده شپږ سوه دوه دیرش ملیونه ده؛ په داسې حال کې چې د سین هوا د خبري آژانس د راپور له مخې، په همدې کال کې د افغانستان ټوله کلنۍ بودیجه ۲ ملیارده او شپږ سوه ډالره ښودل شویده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

له روسيي وروسته، کاناډا د نړۍ دوهم ستر هيواد دی. مساحت يې ۹ اعشاريه ۹ مليونه کيلو متره مربع ته رسيږي چې له افغانستان څخه پنځلس کرته لوی دی؛ ولې د دواړو هيوادونو نفوس يو برابر (۳۸ مليونه) دی. يواځې په جنوب او شمال لويديځ (الاسکا) کې د امريکا د متحدو ايالتونو سره د ۸۹۰۰ کيلو مترو په واټن ګډ مځکنې سرحد لري او پاتې درې خواوې يې له سمندر سره نښتې دي. لس ايالتونه او ځينې خود مختاره سيمې لري؛ د فدرال حکومت صدراعظم يې، جسټن ټروډو دی؛ د کامنولت او د G–8 ( اتو سترو صنعتي او اقتصادي هيوادونو) غړی دی.

ما د خپل سفر په ترڅ کې له دوو ځوانانو او دوو پيغلو څخه د هغوئ د ښار او هيواد د تاريخ په اړه وپوښتل؛ د ټولو ځواب همدا وو چې موږ په تاريخ چندان نه پوهيږو او له تيرې زمانې سره کار هم نه لرو؛ خو د وينکو ور په حال وياړو او په راتلونکې يې ډاډه يو. دوئ زموږ په څير، په ماضي باندې شخوند نه وهي چې پنځه زره کلن تاريخ لرو او د امپراتوريو هديرې مو جوړې کړيدي.

بس همدا زموږ او د نورو توپير دی چې موږ نجوني له خپل حق څخه محروموو او دوئ يې تعليم ته هڅوي؛ موږ شعار ورکوو او دوئ شعور کاروي!

-----------------------------------

په منني سره؛ ما په پاسنۍ ليکنې کې د لاندې سرچينو څخه استفاده کړيده:

EXPLORE VANCOUVER, Global News, Google, The Vancouver Sun


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ